مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۳/۰۹

# پښتنه

مقدسه لکه حوره
د عاشق خونه ده بوره
ته باتوره له میونده
ملالی زما له انده
هم رنګینه لکه ناوې
په قسمت به چې د چا وې
چې ښایست دې مکمل دی
سور اوښتی دې منګول دی
سره او توره جوړه هسې
له نظره چیرته نسې
یوه نتکی دې ګلالی وې
هم پېزوان ستا غرځنی وي
تور وېښته نالیدل شوي
خپل اشنا ته ساتل شوي
چې له وړمه یې بې حال وي
په لیدلو دې وبال وي
نه رومان او نه کیسه یې
نه داستان نه افسانه یې
د عظمت کیسې دې وشي
د عصمت کیسې دې وشي
خلک ستا په نوم قربان شي
هم درتېر له خپله ځان شي
بیا منم چې عشق ژوندی دی
لا هغسې ګرندی دی
او ته هم ښکلې لیلا یې
د مجنون د زړه دنیا یې
ته د دې دور حوا یې
پښتنه یې ته زما یې

...

یادونه: پورتنی کرښې مې هغه چا ته لیکلې وې چې نصیب مو سره ونشو، بیا یوه ورځ کوژدنې (ندا) راته وویل: له دې کرښو داسې بوی راځي، چې یو چا ته په ځانګړي عقیدت لیکل شوې وي؟ ما ویل: همداسې یې وبوله چې تا ته مې لیکې دي!

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ